AOZ

# تاوتریخوالی...



آیا تاسو له
تاوتریخوالي سره
مخامخ کیږئ؟
تاسو یې په اړه څه
کولی شئ.

# ...سم کار ندی!

# د تېرې ډېر ډولونه شتون لري.
# تېرى پَه سويس کې جرم ګڼل کېږي.
# د تاوتريخوالي هيڅ ډول سم ندی.

## تاوتريخوالى

کله  چې يو څوک تاسو ته بدې ردې يا په لوړ غږ څه ووايي.

کله چې يو څوک په تاسو بده اغېزه وکړي.

کله چې يو څوک تاسو ته آنلاين سپکاوى وکړي يا تاسو وځوروي.

کله چې يو څوک تاسو ويروي.

کله  چې يو څوک تاسو وګواښي.

کله چې يو څوک تاسو وهي ټکوي.

کله چې يو څوک تاسو په توقيف کې ساتي يا په خپل کور کې مو بندي کوي.

کله چې يو څوک تاسو د خپلې کورنۍ يا ملګرو سره له ليدلو څخه منع کوي.

که چېرې يو څوک تاسو په جنسي اشارو سره ځوروي.

کله چې يو څوک ستاسو له رضايت څخه پرته تاسو لمس يا ښکلوي.

کله چې يو څوک د جنسي اړيکو لپاره په تاسو باندې فشار راوړي.

کله چې يو څوک د واده کولو لپاره په تاسو فشار راوړي.

**کله چې يو څوک د کار کولو يا فحاشۍ لپاره په تاسو فشار راوړي.**
**دا ټول تاوتريخوالى بلل کېږي. او د تاوتريخوالي نور ډېر ډولونه شتون لري.**
**هيڅوک اجازه نلري چې له تاسو سره تاوتريخوالى وکړي.**

## آيا تاسو له تاوتريخوالي سره مخامخ کېږئ؟ يا تاسو د تاوتريخوالي شاهدان پاتې کېږئ؟ تاسو دا کار ترسره کولی شئ:




د AOZ له يو کارکوونکي
سره اړيکه ونيسئ.

يا تاسو کولی شئ چې په
www.gewalt-ist-nicht-okay.ch/zh
ويب سايټ کې د مشورې
ورکولو يو مرکز ومومئ